ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

ګڼه ۱۷

نېټه: شنبه، د ربیع الاول لومړۍ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال










د ۱۴۰۲لمریز کال د حمل میاشتي له لومړۍ نېټې بیا تر اسد میاشتې پورې د افغانستان د صادراتو کچه ۴۹ مېلیارده افغانیو ته رسېدلې ده. د دې کال په لومړیو پنځو میاشتو کې له افغانستان څخه د صادرو شویو توکو ۹۶.۵سلنه پاکستان، هند، ازبکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، عراق او پاتې ۳.۵ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو ۶۰ سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، رومي بانجان، ممیز، زیره، زعفران، زردالو او پاتې ۴۰ سلنه نور بېلابېل صادراتي توکي دي.

اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هڅې پیل کړې، د دې هڅو په لړ کې سوداګري چې یوه مهمه برخه او د صادراتو په برخه کې ارزښتناک رول لري، په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې یې د پام وړ پرمختګ کړی دی. په دې موده کې د افغانستان صادرات زیات شوي، له صادراتو او وارداتو څخه د راټولېدونکو عوایدو په بهیر کې روڼتیا، سوداګرو ته د سوداګرۍ په برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته شوې، چې له امله یې د افغانستان د کمزورې سوداګرۍ د پرمختګ بهیر ګړندی شوی دی.

اسلامي امارت د صادراتو اهمیت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي او پر دې توانېدلی دی، چې د تېرو کلونو په پرتله د صادراتو کچه لوړه کړي. بېلګه یې په ۱۴۰۱ لمریز کال کې صادرات دي چې د کال په پای کې یې کچه شاوخوا دوه میلیارده ډالرو ته رسېده.

افغانستان د خپلو یو شمېر صادراتي اقلامو له مخې په نړۍ کې شهرت لري، چې ښه بېلګه یې غالۍ دي. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له ګاونډیو او د نړۍ له نورو هېوادونو سره سوداګري درلوده او پر مټ یې د هېواد صادراتي توکي صادرول. وچه مېوه لا هم د افغانستان مهم صادراتي توکي جوړوي. د دې ترڅنګ افغاني غالۍ، تغر او یو شمېر نور افغاني تولیدات د افغانستان د مهمو صادراتي توکو په کتار کې راځي چې دمګړۍ د ګاونډیو هېوادونو ترڅنګ په چین، هند، عربستان، تاجکستان، قزاقستان او ان په نړیوالو بازارونو کې ښه مارکېټ لري.

اسلامي امارت هڅه کوي چې سوداګري پرمختګ وکړي او د صادراتو کچه نوره هم لوړه شي. کله چې د یوه هېواد د صادراتو کچه لوړه شي، نو بیا یې ملي عواید هم زیاتېږي او پر مټ یې کولای شي د هېواد د پرمختګ له پاره اړیني پروژې د همدې عوایدو په برکت ورغول شي او هېواد په هره برخه کې پر خپلو پښو ودرېږي. تر کومه ځایه چې تر سترګو کېږي اسلامي امارت ټولو هغو بنسټیزو کارونو ته مخه کړې ده چې کولای شي، د افغانستان اقتصاد پیاوړی، افغانان د نورو له احتیاجه خلاص او پر خپلو پښو ولاړ او پرمختللي اقتصاد خښتنان کړي.

## کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د لازمو آسانتیاوو برابرولو په موخه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه رامنځته شوه



د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ځانګړي فرمان پر اساس کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د لازمو آسانتیاوو برابرولو په موخه د اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه رامنځته شوه.

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ځانګړي فرمان پر اساس او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هدایت او د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د دوهمې ګڼې مصوبې پر بنسټ د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه رامنځته او د روان لمریز کال د وږي میاشتې په ۲۵ مه نېټه یې ابتدايي غونډه ترسره شوه.

په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې د اقتصادي مرستیال ځانګړي سکرتر مولوي عبدالله عزام وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره افغانستان د اقتصاد په ډګر کې لومړني ګامونه اخیستي او له نېکمرغه ښه نتیجه یې هم ورکړې ده. نوموړي زیاته کړه، افغانستان د پانګونې په برخه کې بې شمېره فرصتونه لري او دغه کمېټه به کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته لازمې آسانتیاوې برابرې او په امارتي ادارو کې به یې له بیروکراسۍ مخنیوی وکړي.

وروسته داقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې رئیس مولوي ذبیح‌الله ناصر چې د پانګونې بین

الوزارتي کمېټې مسوولیت هم پر غاړه لري د خپلو خـبرو پر مهال وويـل، دغه کمېټـه د اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې فعاليت کوي او موخه يې تر واحد چـتر لاندې د کورنـي او بهرنۍ پانګونې د طرحو طی مراحل، د پانګونې پروسو کې چټکتيا او شـفافيت رامنځته کـول او د پانګوالـو او اړوندو وزارتونو ترمنځ مؤثره همغږي رامنځته کول دي. د غونډې په پای کې پرېکړه وشـوه چې ټول اړوند وزارتونه به ددغې کمېټې د کړنلارې د غني کېدو په موخه خپل نظرونه په ۳ ورځو کې په کتبي ډول د يادې کمېټې له دارالانشـاء سره شريک کړي او هلته به د مؤظفې شوې کمېټې له لوري د نظرونو د توحيد په صورت که يوه جامع کړنلاره ترتيب او د منظورۍ لپاره به اقتصادي کمېسـيون ته وړاندې شي.

# د بې کيفيته او ناقانونه درملو د وارداتو او قاچاق د مخنيوي په موخه په روغتيايي سکتور کې د اسلامي امارت له لوري يو بل ګام




## در شهر کابل تا اکنون ۴۱۵۱۳ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمـع آوری گدایان را در سـایر ولایت های کشـور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسـه که نخست از شـهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۱۵۱۳ گدا تا ۲۵سنبله سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۰۴۵ زن ، ٦٥٠٠مرد و بقیه ۲۰۹٦۸طفل می باشند. در میان ایـن اطفال ۷۱ تن آن بی سرپرسـت می باشـند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریسـت که سلسهٔ توزیع کمک های نقـدی و مـواد خوراکی ماهانه بـرای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.



# د ۱۴۰۲ل کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ترسره شویو صادراتو ارزښت ته کتنه

لیکوال: فضل ولي شیراني

## سریزه

افغانســتان د خپل موقعیت له امله په سیمه کې یو مهم هېواد دی او د ســیمې د هېوادونو ترمنځ د پله حیثیت لري. دا هېواد د تاریخ په اوږدو کې د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ د ســوداګریزو کاروانونو مهم مسیر پاتې شوی دی او په دې برخه کې په دودیزه توګه د توکو د لېږد رالېږد اړوند اوږده مخینه لري.

په افغانستان کې څلورو لسیزو جګړو د دې هېواد د نورو برخو په څېر د سوداګرۍ برخه هم زیانمنه کړه، د افغانســتان غوره صادراتي توکي، لکه غالی، تغر، وچه میوه، تازه میوه ... له صادرېدو پاتې شول، چې لــه امله یې د دې هېواد اقتصــادي وده هم په ټپه ودرېده.

له څلور لسیزو جګړو وروسته اسلامي امارت واک ته له رسېدو سره سم د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هڅې پیل کړې، د دې هڅو په لړ کې سوداګري چې یوه مهمه برخه ده د اسلامي امارت له لوري ځانګړې پاملرنه ورته شوې او په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې یې د پــام وړ پرمختګ کړی دی. پــه دې موده کې د افغانستان صادرات زیات شوي، له صادراتو او وارداتو




څخه د راټولېدونکو عوایدو په بهیر کې روڼتیا رامنځته شوه، سوداګرو ته د ســوداګرۍ په برخه کې لازمي اســانتیاوې رامنځته شــوې، چې له املــه یې د افغانستان د کمزوري ســوداګرۍ د پرمختګ بهیر ګړندی شوی دی.

## صادرات او پر اقتصاد یې اغېزې

په نننۍ نړۍ کې صادرات د هېوادونو اقتصادي پراختیا ماشین په حرکت راولي او څومره چې یو هېواد اقتصاد وده وکړي، په نړیواله کچه یې د سیالۍ ځواک زیات شي، په هماغه کچه به د نړیوالې سوداګرۍ زیاته برخه ځانته ځانګړې کړي. د نړۍ په ناخالص تولید کې د بهرنۍ سوداګرۍ ونډه ۳۲ سلنه ده. له دې څخه جوتیږي چې تر کومې کچې د نړۍ اقتصاد د سوداګرۍ او صادراتو په پراختیا او پرمختګ پورې تړلی دی.

صادرات د تقاضا یوه برخه ده، څکه خو د صادراتو په زیاتوالي سره په ټوله کې تقاضا هم زیاتیږي او په پایله کې یې اقتصادي پرمختګ ته لاره هوارېږي. د دې تر څنګ د صادراتو ډېروالی د یوه هېواد د سوداګرۍ بېلانس برابر ساتي.



اسلامي امارت د صادراتو اهمیت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي او پر دې توانېدلی دی، چې د تېرو کلونو په پرتله د صادراتو کچه لوړه کړي. افغانستان د خپلو ځینو صادراتي توکو له مخې په نړۍ کې شهرت لري، چې ښه بېلګه یې غالی دي. وچه میوه د صادراتي توکو بله برخه ده چې افغانستان یې نړۍ ته صادروي. ددې ترڅنګ یو شمېر نور افغاني تولیدات د افغانستان د مهمو صادراتي توکو په کتار کې راځي چې دمګړۍ د ګاونډیو هېوادونو ترڅنګ په چین، هندوستان، عربستان، تاجکستان، قزاقستان او ان په نړیوالو بازارونو کې ښه مارکېټ لري.

په ټوله کې صادرات د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې غوښنه ونډه لري او په اقتصادي پرمختګ، د روزګار په کچه او د سوداګرۍ پر بیلانس مثبت اغېز لري. د دې له پاره چې یو هېواد د اقتصادي پرمختګ پړاو ته ننوځي، باید د سوداګرۍ په بیلانس کې یې صادرات له وارداتو زیات وي، څکه ډېر صادرات د ډېرو بهرنیو اسعارو د ترلاسه کولو لامل ګرځي او د بهرنیو اسعارو زېرمې په نړیوالو بازارونو کې د یوه هېواد د پېر ځواک غښتلی کوي.

## اسلامي امارت او د هېواد صادرات

په تېرو کلونو کې که د افغانستان د صادراتو پرتلیزې شمېرې وڅېړو چې اسلامي امارت په خپل بهرنۍ سوداګریز سیاست کې بریالی شوی، سیمه‌ییز باور یې پیاوړی شوی، خپلواکي او عادلانه سوداګریزې اړیکې یې جوړې کړې دي. دې هر څه ته په کتو سره داسې ښکاري چې د سوداګرۍ په برخه کې د شته تګلارې له مخې به د صادراتو ګراف په راتلونکو کلونو کې نور هم لوړ شي.

په ۱۳۹۹ل کال کې افغانستان د۶۲ میلیارده او ۱۶۰ میلیونه افغانیو په ارزښت صادرات درلودل. هندوستان، پاکستان، ایران، ازبکستان، قزاقستان متحده عربي امارات، ترکیه، سعودي عربستان، عراق، ایران، جرمني، ایټالیا، روسیه او تاجکستان هغه هېوادونه وو، چې په همدې کال کې افغاني توکي ورته صادر شوي دي. په صادرو شویو توکو کې هنجه، د هنجني تخم، وچه او تازه میوه، زیره، کنجد، د سبزیو تخم، رومي بادنجان، غالی، تغر، مرمرو ډبرې او کاشي لوښي شامل وو. خو په ۱۴۰۰ل کال کې د صادراتو کچه یو څه لوړه شوې ده او د صادراتو



مجموعي اندازه ٦٨ مېلیارده افغانیو ته رسېدلې ده.
ددې کال په نیمایي کې اسلامي امارت د هېواد واګې په لاس کې واخیستې او د نړۍ له بندیزونو سره سره پر دې وتوانېد، چې د دې کال تر پایه د صادراتو کچه لوړه کړي. هنجه، د هنجې تخم، وچه او تازه مېوه، د ډبرو سکاره، پنبه، زیره، پیاز، رومي بانجن، زعفران، غالۍ او داسې نور هغه توکي وو چې په ۱۴۰۰ ل کال کې افغانستان د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر کړي دي. په ۱۴۰۰ ل کال کې د ټولو صادراتو له جملې څخه د ٦٤ مېلیارده او ۸۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت توکي هندوستان، پاکستان، چین، متحده عربي اماراتو، ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان، ترکیې، ایران، عراق، ترکمنستان، سعودي عربستان ته او پاتې ۳ مېلیارده او ۹۲ مېلیونه افغانۍ صادرات د نړۍ نورو هېوادونو ترسره شوي دي.

د ۱۴۰۱ ل کال د وري میاشتې له لومړۍ نېټې د کب میاشتې تر شلمې د افغانستان د صادراتو کچه ۱۵۲ مېلیاردو افغانیو ته ورسېده. په دې کال کې له افغانستان څخه د صادرو شویو توکو ۹۷سلنه پاکستان، هندوستان، ازبکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان او



ترکمنستان او پاتې ۳ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو ٦۳ سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، انار، رومي بانجان، ممیز، وچ انځیر، جلغوزي، زردالو او پاتې ۳۷ سلنه نور بېلابېل صادراتي توکي دي.

د ۱۴۰۲ ل کال د وري میاشتې له لومړۍ نېټې د اسد میاشتې پورې د افغانستان د صادراتو کچه ٤۹ مېلیارده افغانیو ته رسېدلې ده. ددې کال په لومړیو پنځو میاشتو کې له افغانستان څخه د صادرو شویو توکو ۹٦.۵ سلنه پاکستان، هندوستان، ازبکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، عراق او پاتې ۳.۵ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو ٦۰ سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، رومي بانجان، ممیز، زیره، زغفران، زردالو او پاتې ٤۰ سلنه نور بېلابېل صادراتي توکي دي.

په ټوله کې که پورتنیو شمېرو ته وګورو، نو د اسلامي امارت په بیا ځلې واکمنېدو سره د هېواد په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. په ۱۴۰۱ل کال کې د صادراتو کچه د ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو په پرتله دوه برابره شوې ده. هڅه داده چې په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۴۰۱ د صادراتو کچه کال په پرتله نوره هم لوړه شي. د صادراتو په لوړېدو سره به د افغانستان اقتصاد پیاوړی شي.

## پایله

هغه اهمیت ته په کتو سره چې اقتصاد په نړیوالو اړیکو او تحولاتو کې پیدا کړی دی، هېوادونه هڅه کوي، چې په خپلو کې سوداګریزې اړیکې پیاوړې کړي. دا مهال افغانستان هم پر دې وتوانېد چې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره غوره سوداګریزې اړیکې ولري. دا چې افغانستان ښه اقتصادي ظرفیت لري، کولای شي د ګاونډیو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو اړیکو د رامنځته کېدو په برخه کې مهم رول تر سره کړي. اسلامي امارت دې ټکي ته پوره پاملرنه کړې ده. هڅه کوي چې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره خپلې سوداګریزې اړیکې پراخې کړي او په دې برخه کې ښې لاسته راوړنې لري. د ۱۴۰۱ لمریز کال د دوه میلیارد ډالرو په ارزښت صادرات ددې ادعا ښه ثبوت دی. اسلامي امارت د سوداګرۍ د پراختیا له پاره چې صادرات یې برخه ده، ځینې کارونه ترسره کړي دي چې ښه مثال یې د لویو او ټرانزیټي لارو رغونه ده. تر کومه ځایه چې تر سترګو کېږي اسلامي امارت ټولو هغو بنسټیزو کارونو ته مخه کړې ده چې کولای شي، د افغانستان اقتصاد پیاوړی او افغانان د نورو له احتیاجه خلاص کړي. افغانستان د یوه خپلواک هېواد تر څنګ د درېیمې نړۍ د هېوادونو له نوملړ څخه راوباسي او د پرمختللو هېوادونو په کتار کې یې ودروي.

# مکثی بر طرزالعمل جلوگیری از ورود ادویه بی کیفیت، غیرقانونی و قاچاق آن

نویسنده: هدایت الله واحدی



### مقدمه

بدون شک یکی از نیاز های مبرم جوامع بشری جهت امرار حیات و به دور از گزند امراض و برخوردار بودن از سلامت جسمی و روحی همانا ادویه جات می باشد. از اینرو با اهمیتی که ادویه ها در سلامتی انسان ها و سایر زنده جان ها دارد، باید به شکل شاید و باید در کیفیت آن توجه مبذول گردد، زیرا سهل انگاری در این عرصه جبران ناپذیر بوده و به معنی بازی کردن به حیات جوامع انسانی می باشد. ناامنی‌ها، فقر و سایر عوامل محیطی و عدم توجه

شاید و باید دولت های حاکم و سازمان های بین المللی در این عرصه سبب آن گردیده تا افغانستان به یک کشور مصرفی ادویه تبدیل شود. طبق معلومات در افغانستان سالانه حدود ۶۵۰ میلیون دالر امریکایی در بخش دوا به مصرف میرسد. از سوی دیگر ۹۵ فیصد ادویه مورد نیاز افغانستان وارداتی می باشد،که از این فرصت سود جویان و قاچاق بران استفاده برده و با وارد نمودن ادویه بی کیفیت و غیر قانونی به کشور زنده گی مریضان را به مخاطره می اندازند، که این معضله نه تنها در افغانستان بلکه در تمامی کشور های فقیر و رو به انکشاف معمول بوده، در کشور ما به دلیل عدم کنترول قاطع و طولانی بودن سرحدات، توجهٔ نه چندانی دولت های پیشین جهت رفع این مشکل، نسبت به سایر کشور ها بیشتر بوده است. عدم کنترول لازم بر واردات محصولات دوایی، لوازم و محصولات صحی به طور فزاینده‌ای می تواند بالای مؤثریت و کیفیت محصولات دوایی تأثیرگذار باشد. ورود ادویه‌های بی کیفیت تجارتی، تقلبی، غیر مجاز و تاریخ گذشته به کشور، صحت مردم افغانستان را با خطر مواجه کرده است. نبود کیفیت در ادویه های وارد شده سبب شده است تا بیماران برای معالجه به خارج از کشور سفر کنند. بناً نیاز است تا واردات محصولات دوایی با در نظر داشت معیارات و روش های تعیین شده از طرف اداره ملی غذا و ادویه انجام شود تا بر کیفیت محصولات ادویه تأثیرگذار باشد، که در این نوشته به طرزالعمل جلوگیری از ورود دوای بی کیفیت، غیر قانونی و قاچاق آن که طرح آن از سوی اداره ملی ادویه و غذا در هماهنگی با وزارت ها و ادارات ذیربط تهیه گردیده و از جانب کمیسیون اقتصادی منظور گردیده است می پردازیم.



## علل واردات غیر قانونی دواها

در ادارهٔ سابق شاهد صد ها میلیون دالر مصرف در بخش‌های مختلف صحی در کشور بودیم، که در بخش اعمار و ترمیم شفاخانه و کلینیک در نقاط مختلف کشور و تشکیلات اداری به شکل نسبی کار های صورت گرفت، اگر چه نظر به مصرف که صورت گرفته است، در بخش متذکره نیز کاری چندانی صورت نگرفته ولی در بُعد تنظیم و کنترول ادویه، هیچ دست‌آورد محسوس و مشهودی وجود نداشته؛ چنانچه ادویه غیر مجاز و تقلبی از سوی افراد و شرکت‌ها به گونهٔ غیر قانونی به بازار عرضه می شد و همین اکنون نیز به شکل نسبی این مشکل وجود دارد. حدود ۴۰ الی ۵۵ فیصدی دارو های وارداتی افغانستان به صورت قاچاق و غیر قانونی وارد کشور می‌شوند و این امر باعث تورید دواهای بی‌کیفیت و تقلبی در بازار های افغانستان شده است. به همین دلیل، قاچاق دواها یک چالش بزرگی برای وزارت صحت عامه و تاجرانی که به صورت قانونی از کشور های دیگر ادویه وارد می‌کنند، پنداشته می‌شود. در گذشته چندین مرجع بر واردات دوا در افغانستان نظارت داشتند، ولی نبود یک میکانیزم درست برای هماهنگی و همکاری نزدیک میان نهادهای حکومتی، مانند اداره ملی ادویه و غذا، وزارت صحت عامه، وزارت امور داخله و وزارت مالیه باعث گردیده بود تا سالانه صدها هزار تن ادویهٔ بی‌کیفیت، تقلبی و غیر مجاز از کشور های همسایه به طور قاچاقی وارد کشور گردد.

عامل مهم دیگری که سایر عوامل در محور آن میچرخند، فساد اداری در ادارات ذیربط دولتی بود از لحظهٔ که ادویهٔ بی‌کیفیت، تقلبی و غیر مجاز وارد افغانستان می شد از زمان تکمیل پروسهٔ کنترول و طی مراحل گمرکی و عرضهٔ آن به بازار، در تمام مراحل زمینه‌های فساد وجود داشت. تقریباً ۷۵ فیصد دوای افغانستان از کشور های پاکستان، هند، ایران و متباقی از کشور های چین و امارات متحده عربی و سایر کشور ها به کشور وارد می گردد. در چند سال اخیر دوا های بی کیفیت و غیر قانونی به طور دوامدار که مهر و نشانی تقلبی شرکت‌های معتبر کشور های تولید کننده را داشت، وارد افغانستان می‌گردید. این ادویه جات از طریق مرز های مشترک با کشور های همسایه به افغانستان به طور قاچاقی وارد می شد و همین اکنون هم به فیصدی نسبی امکان ورود چنین دوا های غیر قانونی وجود دارد.

بناً ایجاب می کند تا جهت جلوگیری از ورود ادویه بی کیفیت، کنترول آن و عرضهٔ ادویه با کیفیت در کشور تدابیری اتخاذ گردد، که اداره ملی ادویه و غذا امارت اسلامی افغانستان درکنار سایر اقدامات، در این مورد طرزالعمل جلوگیری از ورود ادویهٔ بی کیفیت، غیر قانونی و قاچاق آن را با سایر وزارت ها و ادارات ذیدخل طرح که از سوی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء منظور گردیده است.



## چشم اندازی بر طرزالعمل جلوگیری از ورود ادویه بی کیفیت

اداره ملــی غذا و ادویه مســوولیت فعالیت های پلانگذاری و پالیســی اداره ملــی تنظیم ادویه و محصــولات صحــی را دارا می باشــد. همچنان پلانگذاری، گزارش دهی، نظارت و ارزیابی، تأمین هماهنگــی ، ارتباطات با نهاد هــای ملی و بین المللی، تبادل اطلاعات و معلومات، تجدید اسناد تقنینی اداره در هماهنگــی با نهاد های ذیربط، جواز دهی فعالیت ها و بخش بازرسی، جواز دهی دواخانه ها با رعایت رهنمود ها و روش های خوب ذخیره ادویــه و توزیع به مریض و ســایر الزامات تقنینی مربوطه ، جواز دهی کارمندان فارمســی برای دواخانه ها، فابریکات تولیدی ادویه، تعیین قیمت ها و... از مسؤلیت های آن می باشد. این اداره بر اســاس وظیفه و مکلفیتی که دارد جهت تنظیــم بهتر امــور و جلوگیری از توریــد ادویه و محصــولات صحی غیر رســمی، قاچاقی و بی کیفیت، طرزالعملی را با مساعی وزارت خانه های ذیربط مانند؛ صنعــت و تجارت، زراعت، آبیاری و مالداری و ریاست عمومی استخبارات آماده نموده تا در حصهٔ تطبیق آن بخش های مختلف ذیدخل منســجم گردیده و با پدیدهٔ قاچاق در سطح ملی مبارزه صورت گیــرد، که ایــن طرزالعمل جهت منظوری به جلسـهٔ مورخ ۲۹ ام اســد سال روان کمیسیون اقتصادی پیشــکش گردیده و پس از یــک سلسـله بحثهــای همــه جانبــه ایــن طرزالعمل(جلوگیــری از ورود ادویـهٔ بی‌کیفیت، غیرقانونی و قاچاق) در ســه فصل و هشت ماده منظــور گردید. هــدف اساســی از تدوین این طرزالعــل ایجاد میکانیــزم کاری برای افزایش واردات رســمی و ازدیاد دسترسی مردم کشور به ادویه مؤثر، مصؤن و با کیفیت می باشــد. در این طرزالعمل جهت انسجام بهتر امور و جلوگیری از قاچاق ادویه و ورود غیــر قانونی و بی کیفت دوا مکلفیت های وزارت ها و ادارات ذیدخل مشخص گردیده است که در زیر به آن می پردازیم:

### شرکت های توریدی ادویه و محصولات صحی

۱- اخذ جواز رســمی تورید ادویــه و محصولات صحی از اداره ملی غذا و ادویه؛

۲-ثبت کمپنــی هــای خارجی تولیــد ادویه و محصولات صحی و اقلام تولیدی آن در اداره ملی غذا و ادویه مطابق طرزالعمل جدید؛

۳- تحویلی به موقع و بــه اسرع وقت، اصل تمام اســناد لازمه کمپنــی های خارجــی تولیدی به شمول انوایس قیمت های واقعی به اداره ملی غذا و ادویه؛

٤- در صــورت که میعاد ثبت اقلام دوایی در اداره ملــی غذا و ادویه تکمیل می گردد، باید در اسرع وقت اقدام به ثبت دوباره اقلام نموده و اسناد مورد نیاز را مطابق طرزالعمل ثبت و به اداره ملی غذا و ادویه تسلیم نمایند؛

٥- در صورتیکــه اداره ملــی غذا و ادویه اســناد کمبــود و یا اضافی را برای ثبت مؤثریت و کیفیت مطالبه می نماید، شرکت هــای توریدی موظف اند، مطابق ضرب‌العجل تعیین شده از طرف اداره اسناد مورد ضرورت را به اداره تحویل دهند؛

٦- در صورتی که اقلام دوایی و محصولات صحی توریدی در داخل کشور تجزیه کمی و کیفی شده نتواند، شرکت (کمپنی) تورید کننده مکلف است، تصدیق تجزیه اقلام مذکور را از طرف کمپنی مؤلد ادویه برای هر شماره بچ و محموله ارایه نماید؛

۷- شرکــت های توریــدی نمی تواننــد بالاتر از فیصدی مفاد که توســط اداره ملــی غذا و ادویه



تعییــن گردیــده، ادویــه را به فروش برســانند.
همچنان شرکت های توریدی مکلف اند تا جهت حفظ و نگهداشــت ادویــه و محصولات صحی از گدام های معیاری استفاده نمایند.

به همین شــکل مکلفیت های زیــادی بر عهده شرکت هــای توریدی ادویــه و محصولات صحی گذاشــته شــده که ذکر همهٔ آنها بــه طول می انجامد، بناً گفته می توانیم که با تطبیق این موارد هیچ نوع کار غیر مجاز و یا فعالیت که راه را برای تقلب، قاچاق و عدم شــفافیت باز کند باقی نمی ماند، بلکه بالعکس شــفافیت عام و تام در امور به وجــود میآید، چنانچه با اخذ جواز کاری رســمی تورید ادویه و محصولات صحی ا ز اداره ملی غذا و ادویه ، ثبت کمپنی هــای خارجی تولید ادویه و محصولات صحــی و اقلام تولیــدی، ثبت اقلام دوایی، تجزیــه ادویه جات به منظــور با کیفیت بودن در داخــل و یا در صورت عدم امکانات اخذ تصدیق‌نامه توســط شرکت هــای تورید ادویه از



کمپنی های مؤلد ادویه مذکور، تعیین قیمت از سوی اداره نامبرده این همه و همه دال بر شفافیت، مصؤنیت و کیفیت دوا، جلوگیری از گران فروشی و نیز قاچاق و ورود ادویه بی کیفیت، حفظ و نگهداشت ادویه می باشد.



**مکلفیت های اداره ملی غذا و ادویه**

این اداره مکلفیت های زیادی در این راستا داشته ولی در این نوشته به شماری از این مکلفیت ها اشاره می کنیم زیرا ذکر همه آن به طول می انجامد.

۱- حصول اطمینان از کیفیت، مؤثریت و مصؤنیت ادویه توریدی و ثبت کارخانه های خارجی ادویه و محصولات صحی با اقلام مربوطه؛

۲- حصول اطمینان از مطالبه درست اسناد ارایه شده توسط کارخانه های تولیدی و شرکت های توریدی؛

۳- تهیه لیست اقلام ثبت شده و نشر آن در ویب سایت؛

٤- ثبت به موقع کارخانه های خارجی و اقلام مربوطه؛

٥- نمونه‌گیری از هر بچ محموله های توریدی و ارسال به لابراتوار کنترول کیفیت جهت ثبت کیفیت؛

٦- تقویت سیستم بازرسی از تأسیسات و مارکیت های دوایی برای شناسایی و ضبط ادویه غیر رسمی؛

۷- اجرای سروی مارکیت و نمونه‌گیری از ادویه موجود در مارکیت به منظور تثبیت کیفیت؛

۹- معرفی متخلفین به مراجع عدلی و قضایی در هماهنگی با بخش های امنیتی به منظور جلوگیری از قاچاق ادویه؛

۱۰- تشکیل یک کمیتهٔ کاری متشکل از ادارات ذیدخل(وزارت مالیه، ریاست عمومی استخبارات، وزارت امور داخله و وزارت تجارت و صنعت) به منظور پیگیری و تطبیق موارد این طرزالعمل با به راه اندازی مجالس منظم و دوامدار...



مواردیکه در فوق از آن تذکر به عمل آمد مبین تنظیم بهتر امور جهت داشتن عرضه خدمات صحی(ادویه و محصولات صحی باکیفیت) بوده زیرا با حصول اطمینان از کیفیت، مؤثریت و مصؤنیت ادویه توریدی و ثبت کار خانه های خارجی ادویه و محصولات صحی، حصول اطمینان از مطالبه اسناد، نمونه گیری از محموله های توریدی و ارسال آن به لابراتوار ها جهت تثبیت کیفیت، نظارت و کنترول دوامدار از تأسیسات، گدام ها و مارکیت ها و شناسایی و ضبط ادویه غیر رسمی، تشکیل یک کمیته از وزارت خانه ها و ادارات ذیربط به منظور پیگیری و تطبیق موارد این طرز العمل، سپردن متخلفین به مراجع عدلی و قضایی راه را برای شفافیت و داشتن ادویه مطمئین، مؤثر و باکیفت باز می کند و دیگر مردم ما از ناحیه ادویه بی کیفیت و غیر قانونی رنج نخواهد برد.



**مکلفیت های وزارت مالیه**

۱- وزارت مالیه مکلف است که ادویه، محصولات صحی، تجهیزات طبی، محصولات بیولوژیک و واکسین ها را تا وقتیکه از طرف اداره ملی غذا و ادویه طی مراحل قانونی نگردیده باشند، اجازه خروج از گمرکات را ندهد؛

۲- تیم های مراقبتی سیار وزارت مالیه محموله های ادویه و محصولات صحی که به صورت غیر قانونی وارد کشور می گردد در صورت دریافت با هماهنگی اداره ملی ادویه و غذا ضبط و قرنطین نمایند؛

۳-جهت نگهداری ادویه و محصولات صحی به صورت مصؤن و با درجه حرارت مناسب، وزارت مالیه مکلف است که در گمرکات رسمی کشور، گدام های معیاری مطابق استندرد های ملی و بین المللی ایجاد نماید.

مکلفیت های وزارت صنعت و تجارت

۱- فراهم نمودن زمینه‌های سرمایه گذاری شرکت ها و کارخانه های خارجی در افغانستان؛

۲- مساعد نمودن زمینه اعطای جواز تجارتی به شرکت های توریدی ادویه و محصولات صحی؛

۳- تدویر جلسات پیهم شرکت های توریدی ادویه و محصولات صحی جهت رعایت اصول تجارتی و قوانین و مقررات اداره ملی غذا و ادویه با هماهنگی اداره ملی غذا و ادویه؛

٤- فراهم آوری سهولت های لازم برای سرمایه گذاری در بخش تولید ادویه به سرمایه گذاران

داخلی و خارجی.

مکلفیت های ریاست عمومی استخبارات

۱- همکاری در کشف محموله های غیر رسمی و قاچاقی در هماهنگی اداره ملی غذا و ادویه به منظور اجراآت بعدی؛

۲- اقدامات قانونی در مقابل افراد، اشخاص و تأسیسات دوایی که امورات مربوطه خویش را خلاف اصول و مقررات وضع شده انجام میدهند و معرفی آن به ادارات عدلی و قضایی در هماهنگی با اداره ملی غذا و ادویه؛

۳- حفظ هماهنگی در تمامی اجراآت مربوط به غذا، ادویه و محصولات صحی با اداره ملی غذا و ادویه .... این موارد در کشف ادویه و محصولات صحی بی کیفیت و خنثی نمودن پلان های ناشایسته و مخربانه اشخاصیکه خلاف اصول و مقررات وضع شده عمل می کنند، دارای اهمیت بوده و دیگر کسی جرأت به قاچاق و ورود غیر قانونی ادویه را به کشور نمی کند.

مکلفیت های وزارت امور داخله

۱- همکاری با اداره ملی غذا و ادویه در زمینه جلوگیری از ورود ادویه و محصولات صحی غیر رسمی(بدون اخذ اجازه نامۀ اداره ملی غذا و ادویه) در سرحدات کشور؛

۲- شناسایی راه های عبوری غیر رسمی جهت جلوگیری از ورود ادویه و محصولات صحی که از آن طریق وارد کشور می گردد و اتخاذ تدابیر لازم در زمینه جلوگیری از تکرار همچون اعمال.

این موارد نیز در حصه قانونمندی، تنظیم بهتر امور و جلوگیری از ورود ادویه بی کیفت از ارزشمندی خاصی برخوردار می باشد. بناً گفته می توانیم که این طرز العمل با جامعیتی که دارد، در صورت تطبیق شاید و باید می تواند جلو تمامی مشکلاتی را که سد راه کیفیت اقلام دوایی وارداتی وجود دارد را به وجه احسن بگیرد و دیگر مردم ما از این بابت تشویش نداشته باشند که ان شاءالله هیچ نوع تردید در قسمت اجرای این طرزالعمل وجود ندارد و مردم شاهد داشتن ادویه با کیفیت در کشور خواهند بود.



## نتیجه گیری

از مفاهیم که در بالا جسته جسته گفته شد برمیاید که ادویه ها و محصولات صحی یکی از مهم ترین عناصر جهت بهبود صحت و سلامتی انسان ها بوده و باید در حصه کیفیت آن توجه لازم صورت گیرد و از ورود ادویه های بی کیفیت، غیرمجاز و قاچاق آن به صورت حتمی جلوگیری به عمل آید تا مردم زجرکشیده ما دیگر از این بابت تشویشی نداشته باشند. با در نظر داشت این مبرمیت اداره ملی غذا و ادویه امارت اسلامی افغانستان در کنار سایر اقدامات جهت نهادینه شدن ادویه و محصولات صحی با کیفیت در کشور طرزالعمل را در سه فصل و هشت ماده مشترکاً با وزارت خانه ها و ادارات ذیربط تدوین و جهت منظوری به جلسۀ مورخ ۲۹ ام اسد سال روان کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء پیشکش نموده که بعد از غور و بررسی همه جانبه منظور گردید. ان‌شاءالله با تطبیق این طرز العمل مشکلات که در عرصه تورید ادویه بی کیفیت و محصولات صحی وجود دارد مرفوع خواهد شد.

## د بهرنیو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانيو پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۸,۸۵؋ | ۷۸,۹۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۵۶؋ | ۲۵۷؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۵۸؋ | ۱,٦۰؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۸٤,۰۰؋ | ۸٤,۵ ۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۱,۲۰؋ | ۱,۳۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۹۸۰؋ | ۱۰۲۰؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۱۰۲,۸۰؋ | ۱۰۳,۰۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۲۳,۵۵؋ | ۲۳,٦۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲٤,۳۰؋ | ۲٤,٤۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۱٦,۵۰؋ | ۱٦,٦۰؋ |